۱۶ جوزا ۱۳۸۱

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون

# د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون پېژندنه، د امبودزمن څانګه او تفاهم لیک


راټولونکي:

حسین معین او مختار حیدري


۱۳۹۵ ژمی



## سریزه

بشري حقونو د یوفکر او اندېښنې په توگه،څه ناڅه سل کلونه مخینه لري، خو تر دویمې نړیوالې جگړې وروسته د یوه حقوقي نظام په ډول راڅرگند شو او د وختونو په تیریدو سره یې تحول او تکامل وموند. په ۱۹۴۵ کال د ملگرو ملتونو د منشور د تصویب او په ۱۹۴۸ کال کې د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د تصویب وروسته، د بشري حقونو د نړیوال مقرراتو د تدوین دوره پیل شول او د بشري حقونو په برخه کې تر اوس پورې د لسگونو الزام اورو کنوانسیونونه او اعلامیې تدوین او تصویب شوي دي.

د سندونود تدوین ترڅنگ، د بشري حقونو د مقرراتو پر رعایت باندې د څارنې لپاره، ځینې څارنیز بنسټونه جوړ شوي دي.د سیمې د پوښښ پر بنسټ کولای شو چې دغه څارنیزبنسټونه په سیمه ییزواو نړیوالو بنسټونو باندې وویشو.نړیوال بنسټونه، ټول هیوادونه تر پوښښ لاندې نیسي او په ټول نړۍ کې د بشري حقونو پر رعایت باندې څارنه کوي.سیمه ییز بنسټونه، په یوه ځانگړې سیمه کې(لکه داروپا وچه) پر بشري حقونو باندې څارنه تر سره کوي او ملي بنسټ بیا په یوه هیواد کې د بشري حقونو پر وضعیت باندې څارنه کوي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون،یو ملي بنسټ دی چې پر خپلو کاري څانگو باندې ویشل شوی دی.د دې څانگو له جملې حخه،یوه هم د آمبودزمن څانگه ده چې د دفاعي او امنیتي ځواکونو د کار کوونکو د عملکردونو څخه څارنه کوي، دا ځکه چې دکمېسیون د آمبودزمن څانگه د کارنې له نظره د امنیتي او قضایي بنسټونو سره نږدې رابطه لري،اړینه ده چې د دې څانگې دندې او واکونه بیان شي په دې خاطر چې دامنیتي اودفاعي بنسټونو کارکونکي له دې اداري څخه لازمه پیژندنه ترلاس کړي او دهغوی همکاري له آمبودزمن څانگې سره نوره هم پراخ شي.

د دې لاسوند مطلبونه په پنځو برخو او یوې ډلبندۍ کې وړاندې کیږي.د دې لاسوند څلور اصلي برخې عبارت دي:۱ د بشري حقونو د کمېسیون پیژندنه،۲ –د آمبودزمن مانا،۳ په افغانستان کې آمبودزمن، ۴ - د آمبودزمن واکونه اودندې، ۵ - د دفاعي او امنیتي درې گونوارگانونو سره د تفاهم لیک پیژندنه.

### د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون پیژندنه

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د بشري حقونو یو ملي بنسټ دی چې د بشري حقونو د پراختیا او ملاتړ په برخو کې د افغانستان د هیواد په کچه فعالیتونه تر سره کوي. دغه بنسټ په ۲۰۰۲ کال کې د بن د کنفرانس دهوکړه لیک او د افغانستان د جمهور رییس د فرمان پربنسټ جوړ شو او وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوري داساسي قانون د ۵۸ مادې د حکم پر بنسټ د افغانستان د دولت په چوکاټ کې د یو خپلواکې اداري په توگه په افغانستان کې د بشری حقوقو د رعایت دڅارنې،ښه والي او ملاتړ لپاره د افغانستان

د بشري حقونو خپلوا کمېسیون جوړوي.د افغانستان د اساسي قانون د حکم پر بنسټ، هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقوقو د نقض په صورت کې دې کمېسیون ته شکایت وکړي. کمېسیون کولای شي د افرادو د بشري حقوقو د نقض موارد و اړوند قانوني څانګو ته راجع کړي او دهغوی له حقوقو څخه په دفاع کې مرسته وکړي.[۱]

د کمېسیون دندې ،واکونه او تشکیلات په قانون کې پیژندل شوي دي. کمېسیون د۹ تنو غړیو څخه جوړو دی چې هر غړی یې د کمیشنر په نوم بلل کیږی او د پنځو کلونولپاره د جمهور رییس له لوري ټاکل کیږي. د کمېسیون له غړیو څخه یو غړی یې د جمهور رییس له خوا د کمېسیون د رییس په توګه ټاکل کیږي.

د کمېسیون د اجراییوي څانګو په سر کې اجراییه ریاست ( دارالانشا) قرار لري چې د اجراییه رییس له لوري یې لارښوونه کیږي او د کمېسیون اجراییوي فعالیتونه او ټولي اداري چاري تنظیموي. د کمېسیون په جوړښت کې متعددي کاري څانګې وجود لري چې د کمېسیون فعالیتونه تر سره کوي.دغه څانګې عبارت دي له:

### د کمېسیون کاري پروګرامونه،فعالیتونه او موخې:

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د واکونو،دندو او تشکیلاتو قانون د څرګندونې پر بنسټ، دغه کمېسیون د پنځګونو موخو د تحقق او پلي کولو په منظور لاندې فعالیتونه تر سره کوي:

- په هیواد کې د بشري حقوقو په پام کې نیولو باندې څارنه
- د بشري حقوقو تعمیمول او ورڅخه ملاتړ
- بشري حقوقو او ازادیوته د وګړو لاس رسي، له وضعیت او څرنګوالي څخه څارنه
- د بشر له حقوقو څخه د سرغړونو او نقض د مواردو څیړنه او تحقیق
- په هیواد کې د بشري حقوقو د وضعیت د ښه کولو او پراختیا په منظور د تدبیرونو نیول

### د کمېسیون لوی واکونه او دندې:

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د واکونو،دندو او تشکیلاتو د قانون د۲۱،۲۳،۲۴ مادو او د هیواد د اساسي قانون د ۵۸ مادې پر بنسټ، کمېسیون د لاندې واکونو او دندو لرونکی دی:

- د بشر دحقوقو پر وضعیت باندې څارنه
- د بشر دحقوقو په اړه د اساسي قانون، نورو قوانینو، مقرراتو، لایحو او ژمنو د حکمونو له تطبیق څخه څارنه.
- بشري حقوقو او ازادیو ته د وګړو لاسرسي له وضعیت او څرنګوالی څخه څارنه.
- د آزادۍ د سلبولوله ځایونو څخه لیدنه او داړوند قانون د حکمونو مطابق له محبوسینو او محجوزینو سره د چلند د اړوندو قوانینو له تطبیق څخه څارنه.
- د بشري حقوقو د سر غړونو او د نقض د مواردو څیړنه.
- د بشري حقوقو د سر غړونو په مواردو کې د سندونوو مدرکونو، شواهدو او معلوماتو راټول.
- اړوندو مراجعوته د بشرله حقوقو څخه د سر غړونو او نقض د حل او مخنیوي لپاره د څیړنو د پایلو ارجاع کول او پدې برخه کې د اجراآتو تعقیبول.2
- کمېسیون د بشري حقونو نقض څخه ترلاس شوی شکایتونه څیړي٦
- کمېسیون کولای شي چې د شکایتونو د څیړنې په بهیر کې له مرجعواو کسانوڅخه، سندونه

۱ د افغانستان اساسی قانون(۱۳۸۲ ).۵۸ ماده

۲ د افغانستان د بشری حقونو خپلواککمېسیون د واکونو،دندو او تشکیلاتو قانون۲۱،۲۳،۲۴ ۱٦ مادې

او شواهد وغواړي.۷

- دعدلي تعقیب څخه مصوونیت:
- د کمېسیون مامورین او نور غړي د خپلو قانوني دندو په اجرا کې تر عدلیي تعقیب لاندې نشي نیول کیدای.

د کمېسیون کاري فعالیتونه او پروګرامونه د سټراټیژیک پروګرام یا کړنلاري او د عمل پروګرام یا کړنې پر بنسټ جوړیږي. د کمېسیون سټراټیژیک پروګرام او د عمل پروګرام د ۲۰۱۴ څخه تر۲۰۱۸ کلونه تر خپل پوښښ لاندې نیسي.د کمېسیون نوی سټراټیژیک پروګرام د یو اوږد بهیر په لړ کې چې له ۷٦۱ تنوڅخه خلګو،حکومتي بنسټونو،مدني ټولني،رسنو،قاضیانو، څارنولانو،پولیسو،د ښځو او بشري حقونو مدافعینو او د ملا تړ بنسټونو استازیو په هغه کې ګډون درلود. چې په پایله کې یې د کمېسیون نوی سټراټیژیک پروګرام جوړ او تدوین کړې، د کمېسیون پروګرامونه او فعالیتونه په لاندې څلورو سټراټیژیکو موخو پورې تړلي دي.

- لاربښوودنه
- ځواکمنول
- د بشري حقونو څارنه او ملاتړ

**د:د فعالیت بنسټ**:د دې ملي بنسټ فعالیتونه، خپلواکه دي او د قانون،سټراټیژیک پروګرام او د عمل پروګرام په وسیله هغه تنظمیږي.د افغانستان د بشري حقونوخپلواک کمېسیون د واکونو،دندو او تشکیل قانون د ۲ مادې پر بنسټ، دغه کمېسیون د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په چوکاټ کې جوړ شو او په خپلواکه توګه فعالیت کوي او د خپلو فعالیتونو په سرته رسولوکې د اساسي قانون او د هیواد د نورو نافذه قوانینو حکمونه دخپل عمل ملاک ګرځوي. کمېسیون له جوړیدو څخه تر اوس پوري سټراټیژیک پروګرام درلود،اوسنی سټراټیژیک پروګرام، د۱۳۹۳ څخه تر ۱۳۹۷ کلونه ترخپل پوښښ لاندې نیسي. د کمېسیون د عمل کلنی پروګرام د سټراټیژیک پروګرام پر بنسټ جوړوي او د کمېسیون د کارکوونکو ګډون هم تصویبوي.

**ځانګې او دفترونه**:پر ملاتړو ځانګو سربیره، کمېسیون په پروګرامي ځانګو کې لاندې فعالیتونه سرته رسوی:۱ – د بشري حقونو د زده کړې ځانګه،۲ – د بشري حقونو د سرغړونې څخه د څیړنې او څارنې ځانګه، ۳ – د ښځو د بشري حقونو پراختیا او ملاتړ ځانګه،۴ – د ماشومانو د حقونو د پراختیا او ملاتړ ځانګه، ۵ – د معلولیت لرونکو کسانو د حقونو د پراختیا او ملاتړ ځانګه،٦ - د بشري حقونو د مطالعو او څیړنې ځانګه،۷ – د آمبودزمن ځانګه، ۸ - د څیړنې ځانګړی ټیم( دنړیوال بشر پالنې حقونو څخه رعایت) ۹ - د څارنې،ارزونې او رپوټ ورکونې ځانګه. دغه پروګرامونه او فعالیتونه په کابل کې د مرکزي دفتر په وسیله او د هیواد په کچه د اته سیمه ییزو دفترونه او شپږ ولایتي دفترونه په مټ تر سره کیږي.

## د آمبودزمن مانا

په ګوماني ډول زموږ د هیواد ډیر خلګ لومړی ځل دی چې د آمبودزمن کلمه اوري او مخکې له دې څخه، په دې برخه کې په څه نه پوهیدل. خو په افغانستان کې له هغې ورځې څخه تر اوس پورې د آمبودزمن کلمه یوه نویه او تازه کلمه ده چې د ډیرو لپاره یوه نه پیژندونکې کلمه بریښي د آمبودزمن کلمه د نورو کلمو په ډول لکه د پولیس او ترافیک کلیمو په ډول و نورو ژبوته ننوتې دي او د نړۍ نور خلګ د هغوی سره بلد سوې دي او دغه کلمي انګلیسی او لاتیني ریښې لري، خود هغوي څخه ګته اخیستنه نړیواله شوې ده. او د آمبودزمن کلمه د پولیسو د کلمي په شان ونورو ژبوته هم ننوتې ده او خلګ د هغه مفهوم پیژني.

د لومړي ځل لپاره، د سویډن په هیواد کې په ۱۸۰۹ کال کې دآمبودزمن بنسټ پرانستل شو چې وروسته نورو

ډیرو هیوادونو ددغه بنسټ په جوړولو باندې پیل وکړي او هغو هم د آمبودزمن د کلمې څخه کټه پورته کړل.

د آمبودزمن کلمه دombudsman کلمې څخه اخیستل شوې ده او اسکاندیناوي ریښه لري او دهغه اصلي او معنوي مانا( استازی یا نماینده) دی، خود وخت په تیریدو سره یې دغې مانا توپیر وموند،د دې کلمې اصطلاحي مانا،هغه بنسټونه دي، چې د خلګو وشکایتونوته د حکومتي ارګانونو څخه په غیر قضایي ډول رسیدنه تر سره کوي.آمبودزمن د (Blacks Law Dictionary)په فرهنګ کې داسې تعریف شوی دی:«آمبودزمن یو ګومارل شوی رسمي مقام دی چې د دولت په مورد کې د ښاریانو د خصوصي شکایتونو رپوټونو او څېړنو د ترلاس کولو لپاره موظف شوی دی) د آکسفورد لغت په فرهنګ کې د آمبودزمن په تعریف کې راغلي دي چې: آمبودزمن یوه رسمي مرجعې ده چې په ځانګړې ډول دعالي رتبه چارواکو ، افرادو او سازمانونو په مورد کې د ښاریانو ښکایتونه تر لاس کوي او څیړي.

نوله دې کبله. دغه دنده په معمولي توګه و آمبودزمن ته د دولت یا پارلمان په وسیله سپارل کیږي، خو په عمل کې، وهغه ته ډېر خپلواکه عمل ورکول کیږي.د آمبودزمن د جوړیدو موخه د حکومتي او اداري ناسمو بهیرونو په وړاندې د افرادو د حقونو څخه ملاتړ دی یا په هیواد کې د قانون پرحاکمیت د څارنې لپاره د غیر قضایي اجراییوي ضمانت او د خلګو د آزادیو او حقونو څخه ملاتړ دی. دغه بنسټ شکایتونه تر لاس کوي او تر څیړنې لاندې یې نیسي او د مقرراتو پر بنسټ باندې و مسوولو چارواکو ته لازمي لارښوونې وړاندې کوي. د دې ډول غیر قضایی رسیدنې ځانګړتیا په دې کې ده چې په دې بهیر کې د تشریفاتو نشتوالی او د شکایتونو په برخه کې د عمل چټکتیا ده.نو له دې کبله د آمبودزمن بنسټ د مختلفو هیوادونو د هر کلي سره مخامخ شو.

په مختلفو هیوادونو کې د آمبودزمن د څانګو جوړول او د فعالیتونو ډول یې توپیر لري. په ځینو هیوادونو کې د بشري حقونو د ملي بنسټ پر خای د آمبودزمن څانګه لري او په ځینو هیوادونو کې د هر ځانګړي موضوع لپاره یوځانګړی بنسټ د آمبودزمن په نوم جوړ شوی دی. یعني کولای شو چې ووایو چې آمبودزمن د بشري حقونو د ملي بنسټونو څخه یو ډول بنسټ دی، د بیلګې په ډول، د انګلستان د شاهي هیواد او ایرلنډ په مختلفو برخو کې تر ۲۰ ډوله آمبودزمن څخه لا ډیر موجود دي.[3]

د دانمارک په هیواد کې د دانمارک د بشري حقونو ملي انستیتوټ په څنګ کې د آمبودزمن څانګه په قانوني واکونو سره جوړه شوې ده او د شکایتونو د څیړنې او ترلاس کولو مسوولیت د دې سازمان په غاړه دی. زموږ په ګاونډې هیواد تاجکستان کې د بشري حقونو د ملي بنسټ پرځای د آمبودزمن څانګه جوړه شوې ده چې د بشري حقونو څخه د ملاتړ او څارنې دنده په غاړه لري دا ډول دآمبودزمن بنسټ چې د بشري حقونو ملي بنسټونو په ځای جوړیږي، برخمن دي. او هم د هغوی له واکونو څخه برخمن دي کوم چې د بشري حقونو ملي بنسټ یې لري، خو په ځینو هیوادونو کې د بشري حقونو د ملي بنسټ تر څنګ د آمبودزمن څانګه په یوه ځانګړې برخه کې او یا څو آمبودزمنه څانګې په مختلفو برخوکې جوړیږي.

## په افغانستان کې آمبودزمن

په افغانستان کې د آمبودزمن د څانګې د جوړولو موضوع ، د ۲۰۱۰ میلادي کال د آګست په میاشت کې مطرح شوه.د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د آمبودزمن د جوړښت او پرانستلو په مورد کې یې په افغانستان کې د اروپایي اتحادي(EUPOL) د پولیسو د ماموریت سره خبري اتري تر سره کړي دي. خو د آمبودزمن د جوړښت په مورد کې د نظرونو اختلاف موجود وه، او له ډیرو ارګانونو سره د مشورو اوسلاوو وروسته تصمیم ونیول شو چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په جوړښت کې دې د یوه کاري ټیم په توګه د آمبودزمن څانګه جوړه شي.

**الف: د نوم ټاکنه**

۳ هماهغه

د بحث وړ موضوعګانو څخه يوه موضوع هم، په افغانستان کې د دې بنسټ د نوم ټاکنه وه. په لومړۍ کې هلې ځلې وشوې چې د دې کلمې بديل په دري يا پښتو ژبو کې ومومي. او دغې کلمې لکه د (دادرس)،دادآور او وشکايتونوته د رسيدنې دفتر) د بديل د غوراوی په توګه مطرح شوي دي، خو هيڅ يوه د منلو وړ ونه ګرځيدلې. په پای کې په دې دليل چې هر کلمه ځانته ځانګړې مانا لري او د ځينو ژبو د کلمو ژباړه په نورو ژبوباندې، ستونزمنې دي،په پای کې په دې سلا شول چې د خپلې آمبودزمن د کلمې څخه دې کټه واخيستل شي.

په لومړی کې د دې څانګې دنده داسې اټکل کيده چې آمبودزمن د خلګو دشکايتونود ثبتولو او رسيدنې له لياري يوازې د پوليسو پر عملکردونو باندې څارنه وکړي او د دې بنسټ رسمی نوم د پوليسو دآمبودزمن دفتر په نوم وه. خو په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون او د ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت لوی رياست سره د همکاری او هماهنګې تفاهم ليک تر لاسليک وروسته، پر نورو ادارو باندې د آمبودزمن د څارنې ماموريت پراختيا وموندل نوله دې کبله د دې څانګې نوم د آمبودزمن په نوم بدلون وموند.اوس آمبودزمن د هيواد د امنيتي او دفاعي ټولوځواکونو پر عملکردونو باندې څارنه کوي او په هغوي پورې د تړل شويو بشري حقونو د نقض قضيې تر رسيدنې او څېړنې لاندې نيسي.

## ب: د آمبودزمن د جوړيدو اړتيا

په افغانستان کې دآمبودزمن د جوړيدو د اړتيا د اثبات او کره کيدو لپاره کولای شو چې ووايو: هر سازمان په ځانګړې ډول دولتي سازمانونه،د دې لپاره چې روښې کړنې ولري،ځواب ويونکي وي او ښه خدمتونه وړاندې کړي،بايد د هغوی پر عملکردونو او کړونو باندې څارنه وشي.خو کورنۍ څارنه او د يوه ارګان څارنه کيدای شي. پر دوه ډوله وي :کورنۍ څارنه او بهرنۍ څارنه.

کابو ټول ارګانونه ،داخلي څارنيز ميکانيزمونه لري او د دې ميکانيزمونو له لياري، د افرادو پر کړونو او عملکردونو او په کلي توګه د يوه ارګان د فعاليتونو څخه څارنه تر سره کوي. دغه ډول څارنه ځانته اهميت لري او په ځينو سازمانونو کې اغيز ښندې. خو کورني څارنيز ميکانيزمونه ټوله موده او په ټولو ځايونو کې بريالي نه دي. تجربو ښودلې ده چې کورني څارنيز مرکزونه د يوه ارګان په دننه کې د مصلحت په دليل، نشي کولای چې ډېر اغيزمن وي.په ځينو مواردو کې کورني څارنان مصلحت لياري کيږي او د څارنې لپاره لازمه پريکړنده عمل نه تر سره کوي په دې دليل چې د کميو او سرغړونو د کشف څخه وروسته ممکن ده چې ټول ارګان دې د مصلحت په خاطر له هغه څخه سترګې پټې کړي، د هيواد پرامنيتي او دفاعی ارګانونو باندې د څارنې لپاره کورنې متعددميکانيزمونه هم موجود دي. لکه د ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت په لوی رياست کې د پلټنې او او کنټرول رياستونه،د حقوقو رياستونه،۱۱۹ پوليس،د بشر حقونه او جندر څانګې وجود لري چې د قانوني واکونو، تشکيلاتو او ودانيو څخه برخمن دي. خو په عمل کې ليدل کيږي چې دغه کورني څارنيز ميکانيزمونه د هيواد د امنيتي او دفاعي ارګانونو د ځواب ويلو لپاره کافي نه دي.

د کورني څارنيزو ميکانيزمونو د بشپړ کيدو لپاره، د بهرنيو څارنيزو ميکانيزمونو جوړول لازم او ضروروي دي.بهرني څارنيز مرکزونه کولای شي بيله مصلحت فکري لياري څخه په پريکړن او خپلواک ډول عمل وکړي او ټولي کمي او سرغړونې وښيې او د بشري حقونو د نقض موردونه په جدي توګه وڅيړې او تر لاس لاندې ونيسي..بهرني څارنيز مرکزونه هم کولای شي چې د قضايی او غير قضايي بنسټونو په قالب کې وي،د امنيتي او دفاعي بنسټونو پرعملکردونوباندې د قضايي څارنې لپاره ځيني بنسټونه له دې جملې څخه د پوليسو څارنوالي،د دفاع وزارت څارنوالي او ملي امنيت څارنوالي موجودي دي خو قضايي څارنې،ځانګړې، اوږد مهاله ځانګړې تشريفات لري نو په دې دليل د آمبودزمن پرانستل د يو ه بهرني څارنيز ميکانيزم په توګه غير قضايي، ضروري او لازم تشخيص شو او عملي شو. اوس د آمبودزمن څانګه د خلګو د شکايتونو د ترلاس کولو او څيړونو پر مهال، د امنيتي ځواکونو په وسيله د قوانينو د اجرا پر روش او هم د خلګو سره د چلند پر ډول څارنه کوی. د خلګو سر د چلند په موردکې د امنيتي بنسټونو د جګړې د فعاليتونو پر مهال او په څارن خونو کې د متهمينو ساتنه او د جکړيزو مخالفو وسلوالو

په اړوند د قوانینو رعایت(نړیوال بشرپالني بشری حقونو قوانین )، چې له ډلي څخه د آمبودزمن کاري حوزي دي. دامنیتي ځواکونو پر عملکردونو باندې دغه دوامداره څارنه د دې سبب ګرځي چې هغوی له پخوا څخه ډیر د بشري حقونو مقرراتو او جګړیزو ډلو په مورد کې دهیواد نافذه قوانین او نړیوال بشرپالنې قوانین رعایت کړي او د قانون د حاکمیت له لیاري څخه د خلګو و ازادیو او حقونو ته درناوی ولري.

**ولاندې موخوته د رسسیدنې په منظور آمبودزمن فعالیت وکوي:**

۱ ) وشکایتونو ته اغیزمنه رسیدنه او د امنیتي ځواکونو پر عملکردونو باندې د څارنې د لیاري څخه د خلګو په نسبت دهغوی د ځواب ویلو ډیر ښت.

۲ ) د امنیتي او دفاعي ارګانونو وخدمتونو ته د ټول ښاریانو د عادلانه او برابر لاسرسي ښه والی.

۳ ) د امنیتي او دفاعي ارګانونو په نسبت د خلګو د ملاتړ جلبول.

۴ ) د وړاندیزونو،ارزونې،تحقیق له لیاري څخه د امنیتي او دفاعي کارکوونکو د چلند،پروګرام او سیاست رغاونه.

۵ ) د زده کړې د پروګرامونو د لاري اچونې له لیاري څخه د امنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو د پوهاوي اوظرفیتونولوړتیا.

**د آمبودزمن واکونه او دندې**

د آمبودزمن څانګه د افغانستان د بشري حقونو په خپلواک کمېسیون کې د یوه کاري واحد په توګه د خپل دندې په سرته رسولو کې د کمېسیون د واکونو،دندو او تشکیل قانون او د اساسي قانون پر بنسټ د کمېسیون د ټولو اختیاراتو او واکونو څخه برخمن دی. او په ځانګړې ډول کولای شو د آمبودزمن دندې او واکونه په دریو برخو کې ډلبندې کړو:

**الف: څارنه او څیړنه**

د آمبودزمن واکونه او دندې،د څیړنې او څارنې په حوزه کې په لاندې ډول دي:

۱ ) د نړیوال بشرپالنې بشري حقونه او بشري حقونو مقرراتو د نقضولو څخه د مخنیوي په منظور د امنیتي او دفاعي ارګانونو پر چلند اغیزمنه څارنه.

۲ ) و خلګو ته د امنیتي او دفاعي ارګانونو د خدمتونو پر وړاندې کولو باندې څارنه، تر څو وکولای شي د دې ډول څارنې له لیاري څخه دهغوي و خدمتونوته د ښاریانو د عادلانه او برابر لاسرسي څخه ډاډ ترلاس کړي.

۳ ) د آزادی د سلب پر ټولو سیمو، محبسونواو د ملي امنیت،پولیسو د څارن خونواوتوقیف خونو په ګډون باندې څارنه تر سره کول.

۴ ) د بشري حقونو د نقض قضیو او شکایتونو په مورد کې له اړوند مرجعو او کسانو څخه د معلوماتو، سندونو او بیان را ټولونه اوغوښتنه.

۵ ) دامنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو د چلندونو د ښه والي په منظور د لازمو سپارښتونو، وړاندیزونو او مشورو وړاندې کول تر څو نړیوال ارزښتونه او د قانون حاکمیت ښه عملي او پلی شي.

**ب :د شکایتونو تعقیب او رسیدنه**

د ښکایتونو د تعقیبولو په حوزه کې، د آمبودزمن واکونه او دندې په لاندې ډول دي.

- د امنیتي او دفاعي ارګانونو د منسوبینو د چلندونو په نسبت د افرادو د شکایتونو د ارزونې،مستند جوړونې او ثبتول ترلاس کول.

- واړوند بنسټونو ته د ارجاع شوو و شکایتونو ته له رسیدنې څخه ډاډ ترلاس کلول او د ډیرو هڅو په موخه د ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو وزارت او دملي دفاع و وزارت ته دهغوی لیږدول.
- د وړاندیزونو د پلي کیدو لپاره داد غوښتنې او هم د قضیو په حل او فصل کې له اړوندو مرجعو سره همکاري شوې ده او په عادلانه ډول د شکایت کوونکو او یا قربانیانو لپاره د زیانونو د جبري په منظور د حل لارو پلټنه.
- د لزوم په صورت کې د قربانیانو څخه ملاتړ اولازمي رسیدنې تر سره کول او بیا و اړوند ارګانونو ته دهغوی د پایلو وړاندې کونه.

**ج:رپوټ او پوهاوي ورکول**

۱ ) د امنیتي ځواکونو لپاره د سمینارونو، ورکشاپونو له لیاري څخه د متهمینو، محکومینو د حقونو اود عادلانه محاکمو اصولو،د قانون حاکمیت،بشرپالنې حقونو او بشري حقونو دمقرراتو په مورد کې د ظرفیتونو د لوړتیا د زده کړې پروګرامونه پر لاري اچونه.

د هیواد د ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو او د ملی دفاع وزارتونو وچارواکو ته د څانیزو موندونو، پربنسټ د وړاندیزونو ،سپارښتنو وړاندې کول او د څیړنیز رپوټ جوړول.

۲ ) د څیړنیزو، موضوعي رپوټونو او د امنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو دعملکردونو د ښه والي او ارزونې لپاره د لارښوودونو او اعلامیوخپرول.

**د همږغی او همکاری تفاهم لیک پیژندنه**

په دې برخه کې د هیواد د امنیتي او د فاعي درې ګونو ارګانونو او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په منځ کې د هماهنګی او همکاری تفاهم لیک څو مهم ټکي پیژندل کیږي.

**سریزه**

دغه تفاهم لیک د امنیتي او دفاعي کار کوونکو په نسبت د ښاریانو د لا ښه باور او خوښې د ډیروالی په منظور اوهم دامنیتي او دفاعي ځواکونو او خلګو ترمنځ د متقابلو همکاریو دټینګښت او دهغوی پر عملکردونو باندې د څارنې په موخه، او همدارنګه دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او ملي امنیت لوی ریاست، کورنیوچارو وزارت او ملي دفاع وزارت په منځ کې دهمکاري او همږغي بنسټیز جوړونې په خاطر لاسلیک شو.

د افغانستان د بشري حقونو خبلواک کمېسیون د اساسي قانون د ۵۸ مادې او د کمېسیو د واکونو،دندو او تشکیل قانون پر بنسټ په هیواد کې د بشري حقونو د وضعیت څارنه کوي او په دغه منظور تر لاس شوي شکایتونه څیړي او ارزوي او و شکایتونو ته د رسیدنې په منظور اړوند مدرکونه، شواهد،معلوماتونه او سندونه راټولوي اوتر څیړنې لاندې یې نیسي. کمېسیون د بشري حقونو له نقض او سرغړونې څخه د مخنیو او اغیزمنې رسیدنې په موخه لازم مدرکونه او سندونه و اړوند مرجعو ته ارجاع او لیږدوي آوهم په دې اړوند هغه په پام کې نیول شوي هڅې او پایلې تعقیبوي.

د ملي دفاع وزارت ، کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت لوي ریاست د افغانستان داسلامي جمهوري دولت اساسي او مهم ارګانونه دي، چې د اساسي قانون، پولیسو قانون او دهیو د نورو نافذ شویو قوانینو پربنسټ باندې، د افرادو او ټولنې د امنیت تامین،د عمومی امنیت او نظم ساتنه، د جرمونو سره د مبارزې او کشف دندې په غاړه لري او تر سره کوي. د ملي امنیت عمومي ریاست، کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت مکلف دی چې خپلې دندې د قانون د حاکمیت پربنسټ، د لوایحو ، دندو او تشکیلاتو مطابق چې د افغانستان دجمهور رییس په وسیله منظور شوی دی د امنیتي او دفاعي ار ګانونو لپاره لومړیتړوبونوچې په پام کې نیول شوي دي باید تر سره کړي د

ملي امیت لوی ریاست او دغو وزارتونو په وسیله ټولوه ګومارل شوي کار کونکي موظف دي چې د اساسي قانون د مواد سره سم د بشري حقونو د ازښتونو په ساتنه باندې هڅې ترلاس لاندې ونیسي.

دغه تفاهم لیک د افغانستان د بشري حقون خپلواک کمېسیون، ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت په هیواد کې د بشري حقونو د رعایت او ساتنې په زمینو کې په ولایتونو او مرکزکې د همدغو بنسټونو تر امر لاندې د ټولو څانګو او واحدونو د عملکردونو د ښه والي.ظرفیتونو او پوهاوي د کچې د لوړتیا په منظور دغه تفاهم لیک په لاندې څو مواردو کې لاسلیک کړي.

### د دغه تفاهم لیک اړوند غاړو مسوولیتونه او ژمنې

**لومړي ماده:**

(۱ ). د دې تفاهم لیک ټولي غاړې د بشري حقونو او ښاري حقونو په ارښتونو باندې بشپړ باور لري او په ټولو کچو کې د بشري حقونو د ارزښتونو او اصولو پررعایتولوباندې ځانونه ملزم بولي.

(۲ ). ټوله غاړې ټینګ باور لري چې د افرادو د بشري حقونو د رعایت او د عدالت سمه اجرا د قانون د حاکمیت د ټینګښت اوتلپاتي آرامتیا، امنیت او د نظم د تامینولو اغیزمن او مهم عامل دی.

(۳ ). ټولي غاړې، په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي او ښاري حقونو څخه د ملاتړ د دندو په چارو کې د څو اړخیزه تفاهم او همکاریو رول اغیزمن بولي.

(۴ ). ټولي غاړې د متقابلو دوامدارو ټینګوهمکاریو د اړتیاو په پوهیدنې باندې ټینګار کوي.

(۵ ) ټولي غاړې ژمنه کوي چې په صداقت سره به د دې تفاهم لیک مندرج مواد اجرا او عملي کوو او د نافذه قوانینو او طرزالعملونو او اصولو په چوکاټ کې  په موقع باندې د هغوی له اغیزمنواجراآتو څخه به ډاډ ورکوي.

(٦ ) ټولي غاړې د برابري او نه تبعیض پراصل باور لري او د دغه تفاهم لیک مواد بیله هیڅ ډول تبعیض لکه توکم،قوم،ژبې،مذهب، جنس او نورو اړیکوڅخه اجرا او پلي کوي

(۷ )؛ټولي غاړې ژمنه کوي چې د بشري حقونو نقض په برخوکې  و و رارسیدلو شکایتونوته ژر تر ژره رسیدنه کوي او لازم اجراآت ترسره کوي.

### د ملي دفاع، کورنیو چارو د وزارتونو او د ملي امنیت لوی ریاست ژمنې

**دویمه ماده:**

(۱ ).د بشري حقونو له وضعیت څخه د اغیزمنو او دوامدارو څارنو لپاره د لازمو اسانتیاوو  او زمینو برابرول.

(۲ ). د بشري حقونو نقض قضیو په شکایتونو کې په هر اړخیزه څېړنه کې د کمېسیون د څارنانو سره هماهنګي او همکاري.

(۳ ) د رپوټونو، مکتبونو له لیاري څخه د کمېسیون د وړاندیزونو، سپارښتونو اجرا او رعایت او د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي په موخه د کمېسیون د کارکوونکو د لیدنو او کتنو د رپوټونو وړاندې کول.

(۴ ). د کمېسیون په وسیله د بشري حقونو د نقض قضیو په اړوند د لازمو مدرکونو او مالوماتونو وړاندې کول.

(۵ ) . د بشري حقونو نقض قضیواو شکایتونو تعقیب او رسیدنه چې د کمېسیون په وسیله د ملي دفاع وزارت ،کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت لوی ریاست ته ارجاع کیږي او په اړوند زمینو کې د لازمو او اغیزمنو اجراآتو څخه ډاډ ترلاس کول.

(٦ ) د ملي امنیت عمومي ریاست، کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت تر اثر لاندې ټول جزوتامونه او قطعاتو په وسیله د نافذ شویو قوانینو او بشري حقونو موازینو بشپړ رعایت څخه ډاډ ترلاس کول.

(۷ ) . د ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو وزارت او دملي دفاع وزارت تولو پوځي او ملکي کار کوونکو لپاره د زده کړو پروګرامونو پراختیا او طرح او د بشري حقونو پر وضعیت او دهغوی دعملکردونو او فعالیتونوباندې اغیزښندي.

(۸ ).د قانون و حاکمیت او د جګړې د بندیانو وانساني کرامت ته درناوی، د بشر پالنې حقونو او بشري حقونو د رعایت په مورد کې د امنیتی او دفاعي ځواکونو د کارکوونکو د ظرفیتونو دلوړتیا په منظور د زده کړې د پروګرامونو د جوړولو لپاره د لازمو اسانتیاوو بربرونه.

## د کمېسیون مسوولیتونه او ژمنې

### درېیمه ماده:

(۱ ) .د بشری حقونو د رعایت او ملاتړ په منظور د همکاریو د تامینول په موخه نړیواله ټولنه،غیر دولتی سازمانونه،د ملي امنیت لوی ریاست، دکورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو سره دلازمو فعالیتونو تر سره کول.

۰۲ ) .د بشرپالنې حقونو او بشري حقونو نقض څخه دمخنیوي په منظور له امنیتي او دفاعي ارګانونو څخه اغیزمنه څارنه.

(۳ ) . د هیواد د امنیتی، دفاعي ارګانونو کار کوونکو دعملکردونو او ناوړه چلند په نسبت د افرادو رارسیدلو شکایتونوترلاس کول،اوریدل،ثبت،څیړن،مستند جوړونه اوارزونه.

(۴ ). و اړوند بنسټونو ته د لیزدول شویو شکایتونو د رسیدنې څخه ډاډ ترلاس کول او د لازموالی په صورت کې به دډیرو هڅو لپاره دهغوی پایلي د ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت ته ولیږدوي.

(۵). د بشري حقونو نقض قضیو په مورد کې داړوند مرجعو او کسانو څخه دمالوماتونو، مدرکونواو سندونو غوښتنه.

(٦). د هیواد د امنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو د ناوړه چلندونو په اړوند د شکایتونو تعقیب.

(۷).د قربانیانو څخه ملاتړ او لازمي رسیدنې تر سره کوي او دلزوم په صورت کې بیا واړوند بنسټونوته د هغوی د پایلو لیږدول.

(۸). د هیواد ملي امنیت لوی ریاست، کورنیو چارو اوملي دفاع وزارتونو و چارواکو ته دڅارنې د موندنې پر بنسټ د وړاندیزونو، سپارښتونو وړاندې کول او د څیړنیز رپوټونو جوړول.

(۹).د قانون د حاکمیت او بشرپالني نړیوال حقونو دارزښتونو په نسبت د امنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو د ښه چلند په منظور د لازمو سپارښتونو ، وړاندیزونو اومشورو وړاندې کول.

(۱۰ ).د کمېسیون په وسیله د بشري حقونو نقض قضیواو شکایتونود مستند جوړونې د څارنې پرمهال د هیواد د ملي امنیت، استخباراتي او کشفي فعالیتونو اسرارو نه افشا او د محرمیت واصل ته زیان اړوي.

(۱۱). دهیواد امنیتي او دفاعي ارګانونو د کار کوونکو لپاره د پوهاوي ناستو، سمینارونواو ورکشاپونو د جوړولو له لیاري څخه د قانون د حاکمیت د ټینګښت او د بشري حقونو په مورد کې د ظرفیتونود لوړتیا په موخه د زده کړې پروګرامونه پر لاري اچول.

## نوري موضوعګاني

### څلورمه ماده:

(۱).په داسي حال ګې چې قانون پر ټولو ښاریانو باندې باید یوډول پلي شي، لازمه ده چې د ټولنې زیانمنونکي افراد، ښځې ماشومان،معلولیت لرونکي کسان او نورو لږکیوو بشري حقونو په ځانګړې ډول په پام کې

ونیول شي او رعایت شي.

(۲).په دې تفاهم لیک کې د مندرجو ژمنو د ښه اجرا په منظور د تفاهم غاړې خواوې په خپلو اړوند ادارو کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د څارنیز فعالیتونه دترسره کولو په موخه ځانګړې میکانیزمونه وړاندیزوي او و مقابل لوري ته اعلانوي.

(۳). د تفاهم لیک دواړې غاړې د لزوم په صورت کولای شي چې ددې تفاهم لیک د ښه تطبیق او ښه والي په منظور د یوبل په خوښه سره په دغه تفاهم لیک تعدیلونه راولي او تصویب کړي.

(۴). دغه تفاهم لیک په څلور مادو او په څلورو اصلي نسخو کې په یو ډول اعتبار باندې جوړ او ترتیب او لاسلیک کړي دی او د هغه نسخې د تفاهم لیک غاړې خواوې له خپلو ځانونو سره ساتي.

(۵). دغه تفاهم لیک د ملي دفاع وزیر، کورنیو چارو وزیر، دملي امنیت لوی رییس او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون تر لاسلیک وروسته د اجراوړ دي.

## ډلبندي

## دډلبندۍ په توګه څو ټکي د اهمیت وړ دي:

۱ – پر ځواکمنو بنسټونو او ادارو باندې د بهرنې څارنې اړتیا له هیچا نه پټه نه ده.له تیرو مخکنیو وختونو څخه تراوس پورې. په مختلفو ټولنوکې هلې ځلې شوي دي چې د ادارو پرعملکردونو باندې باید دڅارنه بنسټونه جوړشي.

۲ - د آمبودزمن په نوم اداره دوې پیړۍ مخکې لومړی ځل په سویډن کې جوړه شو. خو دیوه داسې څارنیزبنسټ د جوړولو اړتیا،په دیر هیوادونوکې په مختلفو بڼو سره یې دغه بنسټ جوړ کړی دی.

۳ – په افغانستان کې د ادارو د کمزورتیا،د قانون نه منلو د روحی او پراخ اداری فساد په دلیل، د کارنې څارنیز یا کار آمد بنسټ جوړولو لپاره څو چند اړتیا لیدل کیږي. په دې منځ کې، امنیت او دفاعي بنسټونه د دې لپاره چې وکولای شي په خپلو قانوني دندوباندې عمل وکړي، د کورني ځارنې او قضایي څارنې تر څنګ و بهرني کارآمد څارنیز میکانیزم ته هم اړتیا لري.

۴ –ښځې د هیواد د ښاریانو نیمایي برخه جوړوي او د ټولني په چارو کې باید ګډون ولري. په دې دلیل، چې د هیواد د امنیتي او دفاعي ځوکونو په لیکو کې د ښځو شتون اړین او یو ضروري او الزامي امر دی.

باید له یاد ونه باسو چې ښځې د هیواد په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې د ځینو ستونزو سره مخامخ دي، نوله دې کبله د آمبودزمن څانګه په ځانګړې ډول د هغوښځو پر وضعیت باندې چې د هیواد دامنیتی او دفاعي ځواکونو سره کارکوې څارنه وکړي ودې موخې ته درسیدولو لپاره د آمبودزمن په څانګه کې باید دښځو ونډه ډیره شي تر څو هغوي په اسانۍ سره وکولای شي د هغو ښځو شکایتونه چې د هیواد په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې کار کوي شکایت ثبت او مستند جوړ کړي او د هغوی وقضیو ته په اغیزمنه توګه رسیدنه وشي.

۵ – د هیواد د فاعي او امنیتي درې ګونو ارګانونو او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په منځ کې د هماهنګي او همکاری تفاهملیک لاسلیک. دا د افغانستان د مهمو اغیزمنو بنسټونو په منځ کې د همکاري ، همغږي چاپریال جوړولو لپاره د پام وړ یوه ارزښتناکه هڅه ده. باید هلې ځلې وشي چې د دې تفاهم لیک د مواد په عملي کولو سره په ټول افغانستان کې د بشري حقونو دارزښتونو زمیني برابري شي.

**سرچيني:**


- د افغانستان اساسي قانون(۱۳۸۲)
- دافغانستاند بشريحقونو خپلواک کمېسيون د واکونو،دندو او تشکيل قانون.


**انګلیسی سرچيني:**


- Ombudsman Association, All About Ombudsman, For more details click on the link: http://www.ombudsmanassociation.org/young-people/all-about-omb.htm